بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغــــانستان اســـــلامي امـــارت

## د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

## د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۲۳/ رجب المرجب /۱۴۴٦ هـ، ق مطابق۵/ دلو/۱۴۰۳هـ، ش**

# په کورني ژوند کې د پريشانيو مخنيوی او د برکت را پيدا کيدلو اسباب

الحمد لله نستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ، ومن سيئات أعمالنا ، من يهد الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له وأشهد ألا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله أرسله بالحق بشيرا ونذيرا وداعيا إلى الله بإذنه وسراجا منيرا صلى الله عليه وعلى اله وأصحابه وسلم تسليما كثيرا، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى: { ومن آياتِه أن خلقَ لكم من أنفُسكم أزواجاً لتسكنوا إليها وجعلَ بينكم مودةً ورحمةً إنَّ في ذلك لآياتٍ لقومٍ يتفكرون } الروم:(۲۱)

**درنو حاضرينو او معززو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

مونږ او تاسو ته معلومه ده چې اسلامي ټولنه له کورنيو څخه تشکيليږي او کورنۍ د افرادو څخه تشکليږي لکه د خاوند، ښځه او لادونه.کورنۍ او کورنۍ ژوند داسلامي ټولنې له خصوصيتونو څخه ده؛ ځکه چې په غير اسلامي هيوادونو کې او نورو اديانو کې د هغه کورني ژوند تصور نشته کوم چې په اسلامي کورني ژوند کې شتون لري لکه د پلار او مور اطاعت او پيروي او د اولادونو تربيت او روزنه په اسلامي اخلاقو باندې ، د مور او پلار سره په ځوانۍ او بوډا والي کې مرسته کول او دهغوی احترام او درناوی کول.

په همدې اساس د اسلام مقدس دين د کورنۍ په اصلاح او جوړښت باندې زيات ټينګار کوي .

**زما عزتمنو!**

هرڅوک غواړي چې خپل کورنی ژوند دې خوشحاله او له نيکمرغيو ډک وي او په کورني ژوند کې دې هيڅ ډول مشکلات موجود نه وي، مګر با وجود ددې ارزو بدبختانه ځينې وخت په کورني ژوند کې پريشانۍ رامنځ ته کيږي لکه د ښځې او خاوند ترمنځ اختلاف، د پلار او زامنو ترمنځ اختلاف، د کور د زنانه وو ترمنځ اختلاف چې دا ټول په کورني ژوند کې د پريشانيو او خپګانونو سبب شي . په کورني ژوند کې د پريشانيو د پيدا کيدو اصلي علت په کورني ژوند کې د اسلامي شريعت عدم تحکيم دی او له شرعي آدابو او اخلاقو څخه بې خبري ده.که چيرې په کوم کور کې اسلامي شريعت حاکم وي او د کور غړي د خپلو حقوقو او د کور د نورو غړو له حقوقو څخه خبر وي او له غير شرعي کارونو څخه هم خبر وي په هغه کورني ژوند کې به د کورنۍ د غړو ترمنځ تاو تريخوالی او پريشاني نه وي؛ ځکه چې هر کس به خپله مرتبه او مقام او حقوق پيژني او د هغې په رڼا کې به د کور د غړو سره نيک تعامل کوي او داسې تقاضا به له نورو مشرانو او يا کشرانو څخه نه کوي چې دده حق نه دی .همدا راز په کوم کورني ژوند کې چې شريعت حاکم وي او د کورنۍ غړي د شرعي حقوقو

څخه خبر وي په هغه کورني ژوند کې به هیڅکله څوک پر چا ظلم نه کوي او په کوم کورني ژوند کې چې ظلم نه وي په هغه کورني ژوند کې به جنجالونه، مشکلات ، اختلافات او پریشانی هم نه وي او که چیرې وي هغه به ډیرې کمې وي.
ددې لپاره چې په کورني ژوند کې پریشاني ونلرو او تل په خپلو منځونو کې همکاره کورنۍ ولرو، داسې کورنۍ چې د ښځې او خاوند ، پلار او اولادونو ترمنځ تل مینه او محبت قائم وي او همیش یو د بل مشکلاتو ته رسیدګي وکړي او په نتیجه کې نیکبخته او متعاونه کورنۍ ولرو،دې هدف ته د رسیدو لپاره د ځینو کارونو کول لازم دي؛ ترڅو په کورني ژوند کې د پریشانیو مخه ونیول شي او د کور په کارونو کې، عمرونوکې او کسبونو کې د برکت سبب شي.
بناءً ځینې کړنې او خویونه اختیارول د کورني ژوند د پریشانیو مخنیوی کوي چې ځینې یې په لاندې ډول دي:
**۱- د غوسې پرمهال خاموشي اختیارول:**
غوسه هر وخت په حماقت پیل کیږي او په پښېمانۍ او ندامت پای ته رسیږي، هر کله چې څوک غوسه وکړي، بیا وروباندې پښیمان وي، خو وروسته پښیماني بیا کومه ګټه نه رسوي او بیا غوسې ډیرې پریشانیانې رامنځ ته کوي، نو ښه خبره داده چې خپله غوسه په پیل کې کنټرول شي ترڅو مشکلات رامنځته نشي.
په کورني ژوند کې ځینې وخت پریشاني د ښځې او خاوند ترمنځ د اختلاف له امله رامنځ ته کیږي چې دا د شیطان له لاسه رامنځ ته کیږي ځکه چې شیطان کوښښ کوي چې د ښځې او خاوند ترمنځ اختلاف او خپګان رامنځ ته کړي او شیطان دا کار ځکه کوي چې د ښځې او خاوند ترمنځ له اختلاف څخه په کورني ژوند کې نور بې شمیره پریشانیانې او خپګانونه رامنځ ته کیږي او حتی د اولادونو په روح او روان بده اغیزه پرې باسي او ځینې وخت خبره دیته ورسیږي چې کورنۍ ژوند وپاشل شي.
نو که چیرې د ښځې او خاوند ترمنځ په کومه خبره اختلاف او خپګان را پیدا شي ، باید چې دواړوه د غوسه کیدو څخه ځانونه وساتي او په حوصلې سره او په ارامه فضاء کې په خپل منځ کې سره خبرې وکړي، خو ځینې وخت دا سې هم پیښیږي چې د ښځې خاوند په غوسه کیږي، په داسې صورت کې د هغه ښځې لره په کار دي چې د هغه د غوسې په مقابل کې خاموشي اختیار کړي او له جواب ورکولو څخه ډډه وکړي او که چیرې ښځې ته غوسه ورغلې وي ، نو ځان دې کنترول کړي، ځکه په داسې حالت کې خاوند ته ځواب ورکول د هغه قهر او غوسه نوره هم زیاتیږي. او که چیرې ښځه په غوسه شي ؛ نو خاوند لره په کار دي چې د خپلې ښځې غوسه تحمل کړي او خاموشي اختیار کړي او خپله غوسه دې وزغمي او تحمل دې کړي او کله چې د ښځې غوسه ختمه شوه نو بیا دې ورته توصیه وکړي او د ستونزې په حل دې ورسره خبره وکړي، نو جنجال به نه رامنځته کیږي اوپریشاني به ختمه شي. الله تعالی د هغو خلکو صفت کړی دی چې خپله غوسه زغمي او تحمل کوي. الله تعالی فرمايلي دي: (الَّذِينَ يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ).أل عمران: (۱۳٤)
ترجمه:- هغه کسان چې نفقه ورکوي(مال لګوي د الله په نامه)په خوښی (یا ارزانی یا شتمنۍ کې) او تکلیف(یا قیمتي یا تنګسه کې).
او چې زغمونکي د قهر دي (سره له قدرته)او عفوه کوونکي دي له خلقو(چې پرې وکړي زیاتی او ظلم)او الله خوښوي نیکي کوونکي.
په یو حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصِنِي قَالَ:« لَا تَغْضَبْ فَرَدَّدَ مِرَارًا قَالَ لَا تَغْضَبْ» صحیح البخاري ت (۱۵/ ۳٤۳)
ژباړه:- دابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي چې بیشکه یو سړي نبي علیه السلام ته وویل چې ماته وصیت(نصیحت ) وکړه. نبي علیه السلام ورته وفرمایل: چې مه په غوسه کیږه، دا یې څو ځله تکرار کړه چې مه په غوسه کیږه.
همدارنګه که چیرې په کورني ژوند کې د کور بل کوم مشر په غوسه شي ، نو د کور نورو خلکو ته په کار دي چې خاموشي اختیار کړي او دوی هم په غوسه نشي .
**۲- خوږه ژبه او ښه الفاظ وکاروئ!**
په کورني ژوند کې د کورنۍ هر یو غړی له بل څخه د احترام ، مینې، محبت او الفت د خبرو توقع لري او غواړي چې له یو بل سره د مینې او محبت په فضاء کې ژوند وکړي، موږ وینو چې د مینې محبت او الفت ژبه په ډېرو سختو او کینه ګرو زړونو هم

تاثير كوي او هغه د ځان په لوري راماتوي، خو دغه مينه او محبت هغه وخت په تاوتريخوالي، پريشانيو او لانجو بدله شي چې يو د كورنۍ كوم غړی د محبت او مينې پولې ونړوي او خوږه لهجه په ترخه بدله كړي، نو له نرمو او له مينې ډكو خبرو سره د كور فضاء سوله ييزه پاتې كيږي چې بايد په همدې ټينګار وشي. مونږ او تاسې هغه وخت د كورنې ژوند د پريشانيو څخه ساتلی شو چې تل يو بل ته ددرناوي الفاظ او كلمات استعمال كړو او په هر حال كې د ژبې عفت وساتو او ناوړه خبرې او نا مناسبې جملې يو بل ته ونه كاروو.

زمونږ خوږ پيغمبر خوږ ژبې ؤ او هيڅكله يې ناوړه خبرې چاته نه كولې.

خوږه او نرمه خبره كول صدقه ده.په حديث شريف كې راځي: وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ» صحيح البخاري ت (۱۵/ ۲۱۳)

ژباړه:- او ابو هريره رضي الله عنه وايې چې نبي عليه السلام فرمايلي دي: پاكيزه خبره صدقه ده.

په يو بل روايت كې راځي: عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ قَالَ قُلْتُ: مَا الْإِسْلَامُ قَالَ طِيبُ الْكَلَامِ ». مسند أحمد (۳۲/ ۱۷۷)

ژباړه:- د عمرو بن عنبسه رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې ما وويل: اسلام څه ته وايې؟ نبي عليه السلام راته وويل: (اسلام) خوږه وينا ده.

**۳- په خپل كور كې ديني ماحول او چاپيريال جوړ كړئ!**

لكه مخكې مو چې وويل په كوم كور كې چې ښځه، خاوند او بچيان د دين احكامات په سمه توګه عملي كوي، هغوی به هميشه خوشحاله او سوكاله وي او هيڅكله به يې په كور كې پريشاني او مشكلات نه رامنځته كيږي، ځكه چې اسلام خپلو پيروانو ته د مشرانو د عزت او په كشرانو د شفقت كولو توصيه كړې ده او اسلام ټول هڅولي چې د ژوند د چارو يو له بل سره مرسته وكړي او هغه څه نه ځانونه وساتي له څه نه چې په كورني ژوند كې جنجال، مشكل او پريشانۍ رامنځته كيږي.

الله تعالى فرمايلي دي چې تاسو يو له بل سره په نيكو كارونو كې مرسته وكړئ او په بدو كارونو كې مرسته مه كوئ.الله تعالى فرمايلي دي:{ وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلا تَعَاوَنُوا عَلَى الأَثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ} المائدة: (۲)

ترجمه:- او مرسته كوئ تاسې يو تر بله په نيک كار او تقوی (پرهيزګاری)كې، او مه كوئ تاسې مرستې يو تر بله پر ګناه او پر عدوان( ظلم تجاوز)

او وويرېږئ تاسې له الله څخه، بېشكه چې الله ډېر سخت دی عذاب ( د ده متخلفينو لره).

په يو بل مبارک آيت كې الله تعالى فرمايلي دي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ} المائدة: (۸)

ترجمه:- ای هغو كسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنی ای مؤمنانو ! )اوسئ تاسې محكم ولاړ (په حق باندې) لپاره د الله (اوسئ تاسی )شاهدان به قسط(عدل او انصاف) سره او باعث دې نكړي تاسې دښمني د يوه قوم په دې باندې چې عدل انصاف به ونه كړئ تاسې عدل (انصاف) وكړئ تاسې! ، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوی (پرهېز كاری) ته.

او وويرېږئ تاسې له الله (نو ظلم مه كوئ !) بېشكه چې الله ښه خبردار دی په هغو اعمالو چې كوئ يې تاسې.

په يو بل مبارک آيت كې فرمايي:{وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُواْ} الأنعام: (۱۵۲)

ترجمه:- او كله چې خبرې كوئ تاسې (په كوم شي كې )نو حق ( رښتيا ووايئ )

همدارنګه د كورني ژوند دآدابو او اخلاقو ذكر الله تعالى په النور سورت كې كړی دی.

**۴- د يو بل د خپلوانو رازونه مه افشاء كوئ!**

دا طبيعي خبره ده چې هر انسان دخپلې كورنۍسره ، خپل او خپلوانو سره مينه او محبت لري او څوک چې د هغوی صفت كوي وربانديې خوشحاليږي او چې څوک د هغوی بدي بيانوي ور باندې خپه كيږي. كورنۍ چې د خاوند، ښځې، اولادونو او د اينګوريانو څخه متشكل وي بايد يو كس د بل كس د خپلوانو بدي بيان نه كړي؛ ځكه دا سبب د خپګان او اختلاف ګرځي او پريشاني زيږوي.

ښځه او خاوند لره په کار دي چې د يو بل د خپلو نژ دې خپلوانو او کورنۍ رازونه افشاء نه کړي، ځکه چې د خپلو خپلوانو په بدۍ بيانولو انسان خفه کيږي، چې په دې سره په کورني ژوند کې پريشانۍ رامنځته کيږي او د يو بل د خفګان سبب ګرځي، نو په کور کې بايد د دا ډول ستونزو مخه خپله ښځه او خاوند ونيسي. داسلام په مبارک دين کې په دې ټينګار شوی دی چې بايد يو مسلمان په بل مسلمان پرده واچوي او د هغه عيبونه ښکاره نه کړي بالخصوص چې هغه مسلمان د خاوند خپلوان وي يا دښځې او هم د اينګور خپلوان وي او ددوی د پريشانۍ سبب ګرځي.په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « لاَ يَسْتُرُ عَبْدٌ عَبْدًا فِى الدُّنْيَا إِلاَّ سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ». صحيح مسلم (٨/ ٢١)
ژباړه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه له نبي عليه السلام څخه روايت کوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: پرده نه اچوي يو بنده په بل بنده باندې ؛ په دنيا کې مګر الله تعالی به پر ده باندې پرده واچوي د قيامت په ورځ کې.
علمای کرام وايي:( إفْشَاءُ السِّرِّ سَوَاءٌ سِرُّ نَفْسِهِ أَوْ غَيْرِهِ سِيَّمَا الْوَاقِعُ بَيْنَ الزَّوْجَيْنِ وَمِنْ شِعَارِ الْفَسَقَةِ وَلَهُ مَفَاسِدُ كَثِيرَةٌ كَالْحِقْدِ وَالْبُغْضِ وَالْعَدَاوَةِ وَالنَّمِيمَةِ وَإِيقَاظِ الْفِتْنَةِ) بريقة محمودية في شرح طريقة محمدية وشريعة نبوية (٤/ ٥٠٠)
ژباړه:- بله ګناه د راز ښکارکول دي برابره خبره ده چې د خپل ځان راز ښکارکول وي او که د بل چا ، په خاصه توګه هغه راز چې د ښځې او خاوند ترمنځ وي او دا کار د فاسقانو له خصوصيتونو څخه دی او د راز د ښکارکول زيات مفاسد لري له کينه، بغض، دښمني، نميمت او د فتنو را وپاځول.
امام نووي رحمه الله وايي:( فَحَقِيْقَةُ النميمة إفشاءُ السرّ وهتكُ الستر عمّا يُكره كشفُه، وينبغي للإِنسان أن يسكتَ عن كلِّ ما رآهُ من أحوال الناس). الأذكار النووية (١/ ٤٤١)
ژباړه:- د چغل خورۍ حقيقت د راز ښکارکول دي او د پردې پورته کول دي له هغه څه نه چې بد ګڼل کيږي ښکاره کول يې. انسان لره په کار دي چې سکوت وکړي له هغو ټولو شيانو څخه چې هغه ليدلي دي د خلکو له حالاتو څخه .
**٥-که چيرې په کورني ژوند کې له چا څخه کوم ناوړه کار صادرشي، بايد ښنه وغواړي او بيا داسې کار ونکړي.**
هيڅ انسان له غلطۍ څخه خالي نه دی، په کورني ژوند کې که چيرې له چا نه غلطي کيږي، له غلطۍ کولو نه وروسته بايد ښنه وغواړئ، دا غلطي او زياتی که له خاوند څخه وشي او که له ښځې څخه، بايد له يو بل څخه ښنه وغواړي او په راتلونکې کې دې له داسې څه کولو څخه ډډه وکړي چې د خپګان لامل کيږي، که چيرې ښځه او خاوند د دوستانو په څېر له يو بل نه ښنه وغواړي نو د کورنۍ ژوند به تل خوښ او خوشحاله وي.
**٦- په هر حالت د شکر ويستلو عادت خپل کړئ!**
قناعت پرې وکړئ او د الله جل جلاله شکر پرې اداء کړئ، ځکه چې داسې فکر وکړئ، کوم خواړه چې تاسو ته الله تعالی درکړي دي ډېرو نورو خلکو ته يې نه دي ورکړي، ډېر خلک يوازې وچه ډوډۍ هم پوره نه لري، د ناشکرۍ له امله موږ ګورو چې د ډېرو خلکو ښه ژوند او ښه شتمني او کاروبار له منځه تللی دی. الله تعالی فرمايلي دي چې که چيرې په کم نعمت باندې مو شکر وويستلو ، نو زه به نور هم درکړم. الله جل جلاله فرمايلي دي: {وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِن شَكَرْتُمْ لأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ}ابراهيم:(٧)
ترجمه:- او ياد کړه هغه وخت چې خبر در کړ تاسې ته رب ستاسې په دې چې قسم دی که چېرې شکر وويستلو تاسې (په تېرو نعمتونو احسانونو ځما ؛) نو خامخا زيات به کړم تاسې ته نعمت، او قسم دی که بې بېقدري ناشکري وکړه تاسې (د نعمتونو احسانونو ځما ؛) نو بېشکه عذاب ځما خامخا ډېر سخت دی.
**٧- ديو بل قدر او عزت او درناوی وکړئ!**
قدر او عزت هغه څه دي چې له امله يې نفرت په محبت بدليږي اودښمنان هم د انسان دوستان کيږي، له عزت او احترم سره مينه او محبت پيدا کيږي، ښځې او خاوند او دکورنۍ غړو ته په کار دي چې د يو بل احترام او قدر وکړي، نو بيا به پخپلو سترګو وګورئ چې دوی کور کې څنګه خوشحاله او سوکاله ژوند لري. الله جل جلاله فرمايلي دي چې چاته ځواب ورکوي؛ نو په نيکه

طریقه یې ورکړه څکه نیکي کول چې احترام او عزت ته هم شاملیږي دښمنان په خالصو دوستانو بدلوي: الله تعالی فرمایلي دي: (ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ) فصلت: (۳٤)
ترجمه:- دفعه کوه (ته هغه بدي) په هغه خصلت سره چې هغه ډېر ښه وي پس ناڅاپه هغه څوک چې په منځ ستا او په منځ د هغه کې عداوت دښمني وي؛ لکه چې دی به دوست وي ډېر مهربان.

**۸- په کورني ژوند کې اختلافات او ستونزې مو پر وخت هوارې کړئ!**

اختلاف او د نظرونو تفاوت یوه طبیعي خبره ده چې خلاصون ورڅخه نشته ، خو دا مو باید په یاد وي چې د همدې اختلافاتو اوږدېدل (میاشتې او کلونه کلونه ادامه پیداکول)بیا هغه څه دي چې ستاسې پر ورځني ژوند بدې اغېزې پرې باسي او تاسې بدبینی او حسد ته اړ باسي اوکه چیرې تاسې په خورا ځیرکتیا او هوښیاری سره دا کړکیچن حالات او ستونزې پخپل وخت هوارې نکړې،او همداسې ناهمواره پاتې شي؛نو ستاسې په لاس ودان شوی کور به مو خدای مکړه پرکنډواله بدل شي او د کور غړي به مو تیت او خواره شي.

آیا کله مو هم له ځان سره فکر کړیدی چې ستاسې اختلافات ستاسې ترمنځ بیلتون رامنځ ته کوي،دا بیلتون چې کرکه ورسره مل وي ستاسې پر مخ د فساد نوري دروازې خلاصوي؛ لکه: که چیرې د خاوند او مېرمنې تر منځ اختلافات رامنځ ته شي او دا اختلافات بیا تر ډېرې مودې ادامه پیدا کړي، په داسې حساس وخت کې کله کله خاوند یا هم مېرمن د شیطان په لومو کې نښلي او ددې کار پایله او نتیجه به داشي چې زمونږ مسلمانه ټولنه به په اخلاقي فقر او د بداخلاقۍ په وایروس ککړه شي، زمونږ او ستاسې د اولادونو سپېڅلتیا او عفت(پاک لمني) به له یو ستر بحران سره مخامخ شي، نفرتونو، بدنامیو او حتی یو دبل وژلو ته به زمینه مساعده شي نو د همدې احتمالي خطر د مخنیوي پخاطر مېرمن او خاوند ته ښایي چې د ستونزو پر مهال بېرته د حل،دښمنۍ او پخلاینې لارې هم وپېژني.

**۹- په کورني ژوند کې د کورنۍ د غړو ترمنځ وحدت او یووالی رامنځ ته کړئ.**

که چیرې په کورني ژوند کې د کورنۍ د غړو او اعضاوو ترمنځ مینه، محبت او یووالی وي ؛ په داسې کورنۍ باندې پریشاني رانشي څکه ټول به لکه د یو جسم په څیر د مصیبتونو او ناخوالو په مقابل کې یو موټی وي او که چیرې د کورنۍ مشرانو مور او پلار ونه شو کړای چې د کورنۍ د غړو ترمنځ وحدت، یووالی او اتفاق تامین کړي ، بیا داسې کورنۍ ډیر ژر د پریشانیو ښکار شي.

## ب: د برکت را پیدا کیدلو اسباب:

ځینې کورنۍ په کورني ژوند کې د برکت د نه شتون څخه سر ټکوي او شکایت کوي چې ددوی په ژوند کې، کار او کسب کې، رزق او روزۍ کې برکت نشته. په کورني ژوند کې د برکت د راپیدا کولو ځینې اسباب په لاندې توګه دي:

**۱- پرهیزګاري او تقوا اختیارول:**

د الله جل جلاله ویره او تقوی اختیارولو او د برکت ترمنځ قوي اړیکي دي . که چیرې په کوم کور کې برکت نه وي خپلې تقوی ته دې متوجه شي چې د کورنۍ غړي څومره تقواداره دي؟

الله تعالی فرمایلي دي چې څوک د الله تعالی څخه ویره اختیار کړي زه به ورته دداسې ځای څخه رزق ورکړم چې د هغه به ورته فکر هم نه وي. الله جل جلاله فرمایلي دي:( وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجاً وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لا يَحْتَسِبُ). الطلاق:(۲)
ترجمه: -او هغه څوک چې ویریږي له الله ځان ساتي له معاصیو؛ و به ګرځوي ده ته یو ځای د وتلو (له دنیوي او اخروي غمونو نه).
او رزق روزي به ورکړي (الله) ده ته له هغه (ځایه) چې ګمان به نه کوي دی.

حافظ ابن کثیر ددې آیت په تفسیر کې وایې: یعنې څوک چې د الله تعالی څخه وویریدل په هغه څه کې چې ده ته یې ور باندې امر کړی دی او په ترک کولو د هغه څه کې چې دی یې ورڅخه منع کړی دی الله تعالی به ورته د کارونو څخه د وتلو لار وروښايي او ده ته به دداسې طرف نه رزق ورکړي چې دده په زړه کې هم نه ګرځیده. عبدالله بن عباس رضي الله عنه وایې چې رزق به ورته ورکړي دداسې ځای څخه چې هیڅ امید یې ورڅخه نه ؤ. تفسیر ابن کثیردار طيبة (٨ /١٤٦)
عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د تقوی په تعریف کې وایي:( أن يطاع فلا يعصى، وأن يذكر فلا ينسى، وأن يشكر فلا يكفر).
تفسير ابن كثير / دار الفكر (١ /٤٧٦)
ژباړه:- حقه تقوی داده چې د(الله تعالی) اطاعت وشي او نافرماني يې ونشي او (الله تعالی) یاد کړل شي او یاده ونه ویستل شي او د(الله تعالی) شکر اداء شي او ناشکري يې ونه شي.
په يو بل مبارک آیت کې الله جل جلاله فرمایلي دي: (وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُواْ وَاتَّقَواْ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاء وَالأَرْضِ وَلَكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذْنَاهُم بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ) الاعراف: (٩٦)
ترجمه:-او که خلقو د دې کلیو (ښارونو) ایمان راوړی وی او تقوی يې (غوره) کړې وی؛ نو خامخا پرانیستلی به وی مونږ پر دوی باندې (دروازې د) برکتونو له لوري د آسمانه (د باران په اورولو) او له (لوري) د ځمکې (په زرغونولو د محصولاتو)، ولیکن نسبت د دروغو وکړ دوی (انبیاوو ته)؛ نو ونیول مونږ هغوی په سبب د هغو چې وو دوی چې کول به يې (د کفر او معاصیو څخه).
**٢- زیاتې توبې ویستل او استغفار ویل:**
زیاتې توبې ویستل او استغفار ویل هم د برکت د راپیدا کولو سبب دی. الله تعالی د نوح علیه السلام په واقعه کې فرمایي چې نوح علیه السلام خپل قوم ته وویل:(فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّاراً (١٠) يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً (١١) وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَاراً)نوح: (١٠-١٢)
ترجمه:- نو ومې ویل دوی ته بښنه وغواړئ له ربه خپله(له شرکه)بېشکه هغه(الله)دی ډېر بښونکی(توبه کوونکیو لره هر کله چې توبه وباسي).
را وبه لیږي باران پر تاسې باندې ډېر اورېدونکی او در ډېروي، کومک به کوي له تاسې سره په مالونو او ځامنو سره او وبه ګرځوي تاسې ته باغونه او وبه ګرځوي تاسې ته ویالې.
امام قر طبي ددې آیت په تفسیر کې وایي: په دې آیت کې او د سورت هود په آیت کې دلیل دی چې په استغفار باندې رزق او بارانونه نازلیدل غوښتل کیدای شي. تفسیر القرطبي (١٨ /٣٠٢)
امام ابن کثیر ددې آیت لاندې لیکي: کله چې تاسې توبه وویستله الله تعالی ته او له هغه څخه مو بښنه او استغفار وغوښتله او دهغه اطاعت مو وکړ، رزق به موزیات شي او دآسمان په برکتونو به مو خړوب کړي او رازرغون به کړي تاسې ته د ځمکې له برکاتو څخه ،نو زراعت به رازرغون کړي او (د حیواناتو) له تیونو څخه به درته شیدې راتوی کړي او په مالونو او اولادونو به مو مدد وکړي.
عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَنْ لَزِمَ الاِسْتِغْفَارَ جَعَلَ اللَّهُ لَهُ مِنْ كُلِّ ضِيقٍ مَخْرَجًا وَمِنْ كُلِّ هَمٍّ فَرَجًا وَرَزَقَهُ مِنْ حَيْثُ لاَ يَحْتَسِبُ ». سنن أبى داود-ن (١ /٥٦٠)
ژباړه:- د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل دي:چاچې دوامداري وکړه په استغفارویلو باندې ، الله تعالی به یې د هرې سختې ورته خلاصون ورکړي او دهر غم څخه به ورته خلاصی ورکړي او رزق به ورته ورکړي دداسې ځای څخه چې ده به یې فکر هم کولو.
**٣- د الله تعالی په لار کې انفاق کول:** د الله تعالی په لاره کې خیرات او انفاق کول د رزق او روزۍ د زیادت او برکت مهم سبب دی چې ډیری خلک د فقر له ویری ددې سبب څخه غافله دي . الله جل جلاله فرمایلي دي:{قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ} سبأ: ٣٩

ترجمه:- ووایه(ای محمده! دوی ته) بېشکه رب ځما پراخوي رزق روزي لپاره د هر هغه چاچې اراده وفرمايي له بندگانو خپلو، او تنگوي يې ورته (چې اراده وفرمايي متحاناً)، او هر هغه څه چې لگوي يې تاسې په لاره د الله کې) له کوم شي څخه (ډېروي که لږ) پس هغه (لله) عوض در کوي د هغې ، او همدغه (الله) خير او غوره د روزي ورکوونکيو دی.

په يو قدسي حديث کې راځي:( قَالَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَا ابْنَ آدَمَ أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْكَ). صحيح مسلم (۳/ ۷۷)

ترجمه:- الله تعالی فرمايې: ای بني آدمه! صدقه ورکړه ، خرچه به وکړی شي پر تا باندې.

په يو بل حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا وَيَقُولُ الْآخَرُ اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا) . صحيح البخاري (۳/ ٤٦٩)

ترجمه:- دابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: داسې ورځ نشته چې سهار کړي په کې بندگان؛ مگر دوه ملائکې په کې راښکته کيږي يوه ملائکه وايي: ای الله ! ورکړئ نفقه کوونکي لره عوض او بله ملائکه وايې : ای الله ! ورکړئ هغه لاس نيوونکي ته د نفقې څخه ضياع (دمال).

امام نووي رح وايي: (الْإِنْفَاقُ الْمَمْدُوحُ مَا كَانَ فِي الطَّاعَاتِ وَعَلَى الْعِيَالِ وَالضِّيفَانِ وَالتَّطَوُّعَاتِ). فتح الباري لابن حجر (٥/ ٤٧)

ترجمه:- غوره انفاق هغه دی چې په طاعاتو کې وشي او په اولاد باندې وشي او په ميلمه باندې وشي او په خيريه کارونو کې وشي.

دا آحاديث ټول ددې خبرې ته ترغيب ورکوي چې د خير په لار کې بايد انفاق وشي او زيری ورکوي هغه چاته چې مال نفقه کوي د هغه دمال د زيادت او برکت.

**۴- اړمنو او محتاجو خلکو سره مرسته کول:**

د اړمنو سره مالي مرسته کول هغه سبب دی چې الله تعالی ورباندې د مرسته کوونکي په مال کې زيادت راولي او په مال کې يې برکت اچوي.

هرکله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت سعد رضي الله عنه وليد چې هغه دمال له پلوه په نورو خلکو برتري لري نبي عليه السلام داسې وفرمايل: (هَلْ تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ إِلَّا بِضُعَفَائِكُمْ). صحيح البخاري ت (۷/ ۳۷۵)

ترجمه:- مرسته نه کړی کيږي له تاسو سره او رزق نه درکول کيږي تاسو ته؛ مگر ستاسو د کمزورو خلکو په وجه.

يعنې ستاسو داړمنو او داقتصاد له پلوه د کمزورو خلکو ددعاء په برکت ستاسو سره نصرت او مرسته کيږي او ستاسو رزق زياتيږي ځکه تاسو ددوی سره مالي مرسته کوی او دوی درته په پاکو زړونو دعاء کوي او ستاسو مال زياتيږي او تاسو شتمن کيږی.

په يو بل حديث حديث شريف کې راځي: (عن أَبِى الدَّرْدَاءِ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « ابْغُونِى الضُّعَفَاءَ فَإِنَّمَا تُرْزَقُونَ وَتُنْصَرُونَ بِضُعَفَائِكُمْ ». سنن أبى داود (۲/ ۳۳۷)

ترجمه:- دابودرداء رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې ماد رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې وه يې فرمايل: ولټوئ ما د ضعيفانو سره ، بيشکه تاسو ته رزق درکول کيږي او تاسو سره مرسته کيږي په سبب د ضعيفانو ستاسو.

دا صحيح او صريح حديثونه دي چې د ضعيفانو سره په مرسته کولو سره رزق او روزي زياتيږي.

**۵- د خپلو خپلوانو سره خپلولي او صله رحمي پالل:**

بل هغه څه چې په رزق کې زيادت راولي او په روزۍ کې برکت اچوي د مور او پلار سره نيکي کول او د خپلوانو سره خپلولی پالل دي. امام بخاري د رزق د پراخۍ داسبابو لپاره په خپل کتاب کې دوه بابونه قائم کړي دي يو باب: (بَاب مَنْ أَحَبَّ الْبَسْطَ فِي الرِّزْقِ) او بل باب: (باب من بُسط له في الرزق بصلة الرحم).او دا لاندې حديث يې په کې ذکر کړی دی : (عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:( مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ أَوْ يُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ). البخاري(٥/ ٢٣٥)

ترجمه:- څوک چې په دې خوشحاليږي چې پراخي راوستل شي دده په رزق کې او وروسته شي دده باقي عمر(وروسته شي دده اجل) نو صله رحمي دې وپالي.

په یو بل حدیث کې راځي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَعَلَّمُوا مِنْ أَنْسَابِكُمْ مَا تَصِلُونَ بِهِ أَرْحَامَكُمْ فَإِنَّ صِلَةَ الرَّحِمِ مَحَبَّةٌ فِي الْأَهْلِ مَثْرَاةٌ فِي الْمَالِ مَنْسَأَةٌ فِي أَثَرِهِ). مسند أحمد (١٤/ ٤٥٦) ترجمه: ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله صلى الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې نبي کریم صلى الله علیه وسلم وفرمایل: زده کړئ دخپل نسبونونه دومره چې تاسو ورباندې صله رحمي وکړی ؛ځکه صله رحمي محبت دی په کور کې ، زیاتوالی دی په مال کې ، وروسته کیدل دي د عمر(وروسته کیدل داجل).

په یو بل حدیث کې راځي: (عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُمَدَّ لَهُ فِي عُمْرِهِ وَيُوَسَّعَ لَهُ فِي رِزْقِهِ وَيُدْفَعَ عَنْهُ مِيتَةُ السُّوءِ فَلْيَتَّقِ اللَّهَ وَلْيَصِلْ رَحِمَهُ). مسند أحمد (٢/ ٣٨٧)

ترجمه:- حضرت على کرم الله وجهه د رسول الله صلى الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې رسول الله صلى الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې خوشحالوي داخبره چې په عمر کې یې زیاتوالی راشي او پراخه کړی شي رزق دده او بد مرګ له ده څخه دفع کړی شي نو دالله تعالی څخه دې ووېرېږي او خپلولي دې وپالي.